**داوطلبۍ ته بلنه**

**داخلي پرانيستي داوطلبي**

**پروژه: د معلوماتي تکنالوژی آمریت لپاره د یو پایه سرور چمتو او تدارک کولو پروسه**

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1401/NCB/G25**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۱ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1401/NCB/G25** داخلي پرانيستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرايطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د تحويلی د جدول مطابق** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستي پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې يادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شويو په شرايطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانيستي ده.

۵. په شرايطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ويب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (abdulhayee.saeed@dab.gov.af) بریښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د پنج شنبې ورځې د سهار له {10:00} بجو مخکې 1401/07/14 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونيکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمين د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمين: بانکي تضمين یانقدی

**۸. د آفر د تضمين مبلغ 41,243 / یو څلویښت زره او دوه سوه او دري څلويښت افغانی**

د آفر د تضمين: بانکي تضمين د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. يعني د آفر د سپارلو د نېټې 1401/04/14 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شويو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵٫۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

يادښت: د آفر د تضمين (بانکي تضمين) بايد په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او يا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنيکي ظرفيت: داوطلب بايد هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنيکي ظرفيت د لاندې معيارونو پوره کولو ښکارندوی وي.

2- د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د يادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معيار اړين نه دی.

3- داوطلبان بايد د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تيرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لېترلږه (يو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکارندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د يادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معيار اړين نه دی.

د نغدي شتمنيو او يا اعتباري اسانتياوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانيستنې پورې **ټوليز ارزښت** (: /343,694 - درې سوه او درې څلويښت زره او شپږ سوه او څلور نوي افغانۍ)

۱۰. آفر پرانيستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسليمۍ د وروستۍ نيټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کيږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امريت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړيکو شميره: 202106692 (0) 93+

برېښناليک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af